## د دې پاڼې تاریخچه

دا چې په سویډن کې د ډېر پخوا څخه د بهرنیو او مهاجرو کوچنیانو او ځوانانو د پاره د خپل کلتور او ژبې د ساتلو او زده کړې امکانات سته د دوی د پاره یو ښکاره امتیاز دئ. په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د ښوونځیو د وزارت د مورنیو ژبو اړونده مقاماتو تصمیم و نیوئ چې د مورنیو ژبو د دغه تدریس د لا ښه مخته وړو د پاره هري ژبې ته یوه ځانګړې انټرنیټي پاڼه خلاصه کې. د دې کار د پاره یې لومړی د عربي ، سومالي ، کوردي او فارسي ژبو ته پاڼې پیل کړې.

په ۲۰۰۲ میلادي کال کې دري او پښتو ژبو ته د افغانستان د یوې ژبې په توګه د یوې پاڼې حق ور کړه سو دا ځکه چې د نورو ژبو په پرتله دومره ډېر افغانان په سویډن کې نه وه. په لومړي سر کې دري ژبې په ستوکهولم کې چې مسوول یې عبدالرحیم غفوري دئ په خپل فعالیت پیل و کړ او د ۲۰۰۲ میلادي کال په لومړۍ نیمایي کې پښتو ژبې هم خپل فعالیت پیل کړ. د دې پاڼې مسوول عبدالعلي رسول زاده دئ. د دې پاڼې تخنیکي همکار په لومړي سر کې د کمپیوټر د انجینیر میرویس رسول زاده وو. پسله هغه څخه تر اوسه پوري سلیم عابد پیمان دئ.

په لومړي سر کې په انټر نیټ کې د پښتو ژبې د لیکلو د پاره پوره امکانات نه وه. هر څه چې به په پاڼه کې راتله هغه باید لومړی پ عکس اړول سوي وای او بیا پاڼې ته ور نقل سوي وای. د نیکه مرغه پسله څه مودې څخه د پښتو ژبې پروګرام د کوم پښتو پال او تکړه چا له خوا منځ ته راغئ. د دې پروګرام په منځ ته را تلو سره د ډیرو انټرنیټي پښتو پاڼو ستونځې حل سوې. زه دغه کسانو ته کورودانی وایم.

تر پښتو دري پاڼې وروسته د ځینو نورو ژبو پاڼې هم منځ ته راغلې. پسله څه مودې څخه د دري او پښتو پاڼو فعالیت دومره زیات سو چې دې پاڼې په یوازې سر د ۲۸ پاڼو د جملې څخه د ښوونځیو د وزارت د انټرنیټ د شبکې تر ۹۰٪ زیات ملاقات کوونکي د پښتو او دري ژبو وه او تر ۱۰٪ لږ د هغه نورو پاتو ژبو وه. د دې کار په نتیجه کې پښتو او دري هري یوې ژبې د یوې ځانګړې پاڼې په توګه ځای و موند.

په ۲۰۰۴ میلادي کال کي د ایرلینډ په هیواد کي د اینټرنیټ د پاڼو یوه نړۍ واله مسابقه جوړه سوه. په دې مسابقه کي د سویډن د ښوونځیو د وزارت انټرنیټي پاڼي لومړۍ جایزه تر لاسه کړه .

تر دې وروسته دري او پښتو پاڼو ته په سویډن کي د دري ژبو او پښتو ژبو د لسم او یوولسم ټولګیو د زده کوونکو د تدریس د پاره په هره هره ژبه د یوه آن لاین کتاب حق هم ور کول سو چي د اړونده ښوونکو له خوا پسله څه مودې څخه سر ته و رسېدئ. خو د پښتو پاڼه یوازنۍ پاڼه ده چي ډېر تدریسي کتابونه او مرستندوی مواد لري. د دې کتابو او موادو څخه نه یوازاي په سویډن کي بلکي په ټوله نړۍ کي د پښتو ژبي زده کوونکي کار اخلي.

عبدالعلي رسول زاده
د مالمو ښار( سویډن )
۲۰۰۹ / ۸ /۱۴